**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**مالي او د همغږۍ معینیت**

**د غیر دولتي مؤسسو د همغږۍ ریاست**

**د صدور نېټه: ۱۴۰۱/۱۰/۳ هـ ش**

**د صادرې شمېره: ۴۲۹۳**

**په :کابل کې د اکبر محترمې مؤسسې ته!**

**موضوع: په کورنیو او بهرنیو غیر دولتي مؤسسو (انجیوګانو) کې د ښځینه ؤ پر کار بندیز**

څرنګه چې تاسې خبر یاست، د اقتصاد وزارت د افغانستان اسلامي امارت په استازولۍ د کورنیو او بهرنیو مؤسسو د کارکولو د ټولیز انسجام او رهبرۍ مسئوولیت پر غاړه لري.

په دې وروستیو کې په غیر دولتي کورنیو او بهرنیو مؤسسو کې د مېرمنو له خوا په کاري ډګر کې د اسلامي حجاب او د امارت د نورو نافذه قوانینو او مقرراتو چې په دې امر پورې تړاو لري، د نه مراعت کولو په هکله جدي شکایتونه ملاحظه شوي دي

د اقتصاد وزارت، د مسئوولیت او رسالت له مخې، چې د غیر دولتي کورنیو او بهرنیو مؤسسو د فعالیتونو په تړاو یې د امارت د نافذه قوانینو او مقرراتو د تطبیق په برخه کې درلود او لري یې، د سر ته رسولو په موخه ټولو محترمو مؤسسو ته لارښوونه کوي چې خپلې ټولې ښځینه کارمندانې کارکونکې، چې د مؤسسو په اړونده څانګو کې دنده ترسره کوي، خپلې دندې تر امر ثاني پورې ودروي

د پورتني مورد د څنډ په صورت کې به د فعالیت جواز چې د وزارت لخوا مؤسسو ته د فعالیت د اجازې په توګه صادرشوی لغوه شي
.

پورتني موارد وسیلتاً تاسې ته ابلاغ شول تر څو خپلو همکارو مؤسسو ته یې ورسوی چې له مخې یې خپل اجراأت ترسره او دې وزارت ته ډاډ ورکړي.

**په درناوي**

**قاري دین محمد حنیف**

**د اقتصاد وزیر**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.